# دَ اَعُوذُ بالله

## وئیلو فضائل

**24-July-2025**

هفته وار د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



پهٔ 24 جولائي، کال 2025ء (مطابق: 28 مُحَرَّم شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د اَعُوذُ بالله وئيلو فضائل

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د شيطان د ويرولو طريقه
- ـــ د دِين د لارې خطرناک ډاکو---!!
- ـــ پهٔ اخري 2 سورتونو کښې ايمان تازه کوونکې نکته
- ـــ د بدئ 70 دروازې

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بياناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

# د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت محمد بن سَعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د دُرُودِ پاک يوه شميره مقرر کړې وه او روزانه به مې پۀ هٔغه همره شميره کښې دُرُود شريف لوستل او بيا به اودۀ کيدم ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دُرُودِ پاک پۀ برکت سره يوه ورځ چې زۀ اودۀ شوم نو بخت مې رابيدار شو، خوږ آقا، حبيبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته پۀ خوب کښې تشريف راوړو او د محبت نه پۀ ډکه لـهجه کښې يې وفرمائيل: اے زما خوږه اُمَّتي! پۀ کومه خُلۀ باندې چې تۀ پۀ ما باندې درود لولې، راوړه! چې زۀ هٔغه خُله ښکل کړم---!!

حضرت محمد بن سعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: د جانِ کائنات، فخرِ مَوجُودات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک چې مې واوريدلو نو ما له حيا راغله چې چرته زما خُله او چرته د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلي ښکلي مبارکې شونډې---!! پۀ دې سوچ ما د حيا نه خپل سر ښکته کړو، بيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله زما مخ ښکل کړو---!!

حضرت محمد بن سعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي چې: سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې پۀ ما خنکه دا عنايت وکړو نو زۀ رابيدار شوم، زمونږه کوټه د پاک نبي، مکي مَدَني، رسولِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوشبويۍ معطر وه او زما مخ خو

تر 8 ورځو پورې خوشبوئي کوله - (1)

وہ جس رَہ سے گزرتے ہیں، بسی رہتی ہے مُدّت تک
نصیب اُس گھر کے جس گھر میں ٹھہریں میہماں ہو کر (2)

وضاحت: خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې په کومه لاره باندې تیریږي هغه تر ډیرې مودې پورې خوشبوداره وي، اَللّٰهُ اَكْبَرُ! هغه کور به څومره نیک بخته وي په کوم کور کښې چې هغوئي جلوه فرمائي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے- (3)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ په اَدب به کښينم ❀ ښۀ په توجُّه به بيان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د شيطان د ويرولو طريقه

صحابئ رسول حضرت ابو سعيد خُدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل ما اِبليس (يعني شيطان مَلعُون) وليدو، ما لَـخته راواخسته او د هغۀ طرف ته ور روان شوم چې هغۀ يې ووهم- شيطان ووئيل: اے ابو سعيده---!! آيا تاسو ته معلومه نۀ ده چې زۀ د لَختې يا د دُنيا

---

1...القول البديع، صفحه:141140۔
2...ذوقِ نعت، صفحه:130۔
3...بخارى، كتاب بدء الوحى، صفحه:65، حديث:1۔

د یوېِ وسلېِ نه هم نهٔ ویریږم- ما ووئیل: اے مَلعُونه---!! بیا تهٔ د کوم څیز نه ویریږې؟ اوئېِ وئیل: د 2 څیزونو نه ویریږم: (1): اِسْتِعَاذَه (یعني د الله پاک د پناه غوښتو نه، مثلاً اَعُوْذُبِالله وئیلو) نه (2): د صِدِّیقینو د معرِفت د نُور نه-(1)

## د صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د نظر کمال

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې ایمان تازه کوونکې واقعې پهٔ رڼا کښې د صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د نظر کمال ته وګورئ! شیطان پهٔ عامو سترګو باندې نشي لیدلے کیدے- الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَ قَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ (پاره:8، سورۂ اعراف:27) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه هغه پخپله او د هغهٔ قبیله تاسو ته د هُغه ځائے نه ګوري د کوم ځائے نه چې تاسو هغوئي نهٔ وینئ- |

معلومه شوه چې زمونږه پهٔ شان عام خلق شیطان نهٔ شي لیدے خو د صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د نظر کمال ته وګورئ!چې کوم شئ چې څوک نهٔ شي لیدلے، صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغه هم ویني، د هغهٔ د وهلو د پاره لَـخته راخلي او وریسې ورځي هم او د هغهٔ سره خبرې هم کوي- سُبْحٰنَ الله!

یہ شان ہے خِدمت گاروں کی سرکار کا عالَم کیا ہو گا

چې د ایمان پهٔ حالت کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مخ مبارک د زیارت کوونکو دا شان دے چې هغوئي هغه څه لیدے شي، کوم چې څوک نهٔ شي لیدے نو د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نظر مبارک شان به څهٔ شان وي---؟ اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ لیکلي دي:

---

1 ...سلوة العارفین، باب فضیلة التعوذ، جلد:1، صفحه:124-

سرِ عرش پر ہے تری گزر، دِلِ فرش پر ہے تری نظر
ملکوت و مُلک میں کوئی شَے، نہیں وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں( 1 )

وضاحت: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو شان خو دا دے چې د عرشِ اعظم سيل کوئ د دومره اوچت والي باوجود هم زمونږ د غلامانو په زړونو باندې نظر ساتئ، د الله پاک په کائنات کښې داسې هيڅ خيز نشته کوم چې ستاسو نه پټ وي-

راځئ چې د صحابهٔ کرامو عَليهِمُ الرِّضوَان په محبت کښې د زړهٔ د اِخلاصه نعرې ووهو:

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابِيِ نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولې صحابِياتې هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسين هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدين د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي جَنَّتي (2) |

## شيطان زمونږ دښمن دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! شيطان زمونږ دښمن دے- هغهٔ هُم دښمن ګڼړل، د هغهٔ نه سخت نفرت کول ډير ضروري دي- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ؕ (پارهٔ:22، سورهٔ فاطر:6) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه شيطان ستاسو دښمن دے نو تاسو هُم هغه دښمن وګڼړئ- |

يعنې اے خلقو! د الله پاک په عبادت باندې په قائِم اوسيدو او د الله پاک په نافرمانۍ کښې د شيطان په لاره په نهٔ تللو د شيطان سره دښمني کوئ! هُم هغهٔ هميشه دښمن ګڼړئ! (3)

---

1 ...حدائقِ بخشش، صفحه:109۔

2 ...وسائلِ فِردوس، صفحه:53۔

3 ...مکاشفة القلوب، باب في عداوة الشيطان، صفحه:69۔

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** شيطان ډير خَبِيث دښمن دے- د اِنسان سره دښمني کول، پۀ يو حال کښې هم د اِنسان سره دوستي نۀ کول د شيطان پۀ فِطرت کښې شامل دي- د دې خَبِيث بس هم يو مِشن دے، هغه دا چې څنګه هم کيدے شي اِنسان د دوزخ حقدار جوړ کړے شي- ځکه زمونږ نجات پۀ دې کښې دے چې مونږ د شيطان خَبِيث سره دښمني وکړو او مونږ هيڅکله هم د دۀ پۀ قابو کښې را نۀ شو-

## ګڼي نو هلاک به شې

حضرت يحيٰ بن مُعَاذ رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: شيطان فارِغ دے، تۀ مصروف يې، شيطان تا وينې، تۀ هغه نۀ وينې، تۀ هغه هيرويې، هغه تا نۀ هيروي، پۀ تا کښې دننه د هغه جاسوسان موجود دي، بس دا لازمي ده چې تۀ د شيطان سره جنګ وکړې! ګڼي نو د هلاکت نه به محفوظ پاتې نۀ شې-[1]

## د الله پاک پۀ پناه کښې راشئ---!!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** شيطان واقعي چې ډير خطرناک دښمن دے، دا هغه خَبِيث دے، کوم چې ژوند ته نقصان نۀ رسوي، د اِيمان نه خلاصول کوي او هميشه د پاره د دوزخ حقدار جوړول کوي- ځکه سعادت مند هغۀ دے کوم چې د دې خَبِيث سره دښمني وکړي او د دۀ د چلونو نه هميشه د بچ کيدو کوشش کوي-

اوس پوښتنه دا ده چې د دې خَبِيث نه به څنګه بچ کيږې؟ آيت مبارک واورئ! **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اِمَّا يَنۡزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيۡطٰنِ نَزۡغٌ فَاسۡتَعِذۡ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۳۶﴾ (پاره:24، سورۀ حم السجدة:36) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او که چرې د شيطان د طرف نه تاته څه وسوسه راشي تو د الله پناه وغواړه بے شکه هُم هغه اوريدونکے او علم والا دے |

1 ...منهاج العابدين، العقبة الثالثة عقبة العوائق، العائق الثالث: الشيطان، صفحه:132-

يعنې اے اِنسانه! که شيطان تا ته وسوسه در واچوي، د **الله** پاک نافرمانۍ ته دې راغب کړي نو تهٔ د هغهٔ د شر نه د بچ کيدو د پاره د **الله** پاک پناه وغواړه، د رَبِّ کريم نه سوالونه وکړه، بے شکه هغهٔ ستا د دعاګانو، خواستونو اوريدونکے، ستا د حَال نه خبر دے۔(1)

## د دِين د لارې خطرناک ډاکو---!!

حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ډير لوئي بزرګ تير شوے دے۔ هغوئي فرمائي: يوه شپه ما خوب وليدو، څهٔ ګورم چې شيطان خپلې ټولې جامې ويستې دي او د اِنسانانو پهٔ شان لوبې کوي۔ ما ترينه تپوس وکړو چې اے بے شرمه! تا له حيا نهٔ درځي، جامې دې نهٔ دي اغوستې او د خلقو مخې ته راځې؟ شيطان ووئيل: اے جنيده---!! تهٔ دوئي انسانان ګڼې؟ که دا انسانان وو نو زما پهٔ موټې کښې به نهٔ راګيريدل؟ ما ووئيل: ستا پهٔ نزد حقيقي انسان څوک دے؟ اوئې وئيل: د شيراز پهٔ جامع مسجد کښې درې کسان دي، هغوئي زما ژوند ډير ګران کړے دے، زهٔ يې کمزورے کړے يم۔

شيخ جنيدِ بغدادي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: زما سترګې وغړيدلې، زهٔ د شيراز جامع مسجد ته لاړم۔ هلته واقعي چې درې بزرګان موجود وو۔ هغوئي چې زهٔ وليدم نو اوئې فرمائيل: جنيده---!! د هر چا پهٔ خبره باندې يقين کوئې؟ فرمائي: زهٔ کيناستم۔ هغه بزرګانو وفرمائيل: جنيده! پوهه شهٔ! چا چې د شيطان مردود نه د **الله** پاک سره پناه وغوښته، هغهٔ پهٔ مضبوط دِين باندې کلک ودريدو۔ نور يې وفرمائيل: **ياد ساتهٔ---!! شيطان د دِين د لارې ډاکو دے۔ چې کله تهٔ د الله پاک پناه غواړې نو هغه به ستا نه لرې تښتي او ډاکه به نهٔ شي اچولے۔**(2)

سُبۡحٰنَ الله! معلومه شوه چې شيطان د **الله** پاک د لارې خطرناک ډاکو دے، د دهٔ نه که بچ کيدل غواړئ نو د الله پهٔ پناه کښې به راځې، هُم هغهٔ د قدرتونو والا رَبِّ کريم دے

---

1...تفسيرِ صراط الجنان، پاره:24، سورهٔ حم السجدة، زيرِ آيت:36، جلد:8، صفحه:644 بتصرف۔

2...بستان الواعظين، ، صفحه:35۔

کوم چې مونږه د دې مردود نه بچ کولے شي- چې کله مونږ د **اللّٰه** پاک پهٔ پناه کښې راشو نو بيا د شيطان څهٔ حال وي، دا هم واورئ!

## تَک تور، بد حاله شيطان

حضرت زُبَير بن عَوَّام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ صحابئ رسول دے، د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ څوم دے، ډيره د اوچتې مرتبې والا هستي ده، هغوئي هم پهٔ عَشَرَه مُبَشَّرَه کښې شميرلے کيږي- عَشَرَه مُبَشَّرَه هغه 10 صحابهٔ کرامو عَليهمُ الرّضوَان ته وئيلے شي، کومو ته چې حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جنَّت زيرے ورکړے وو- هسې خو ټول صحابهٔ کرام عَليهمُ الرّضوَان جنتيان دي خو دې 10 ته د جنَّت زيرے ميلاؤيدل، د دوئي خصوصي شان دے- خير! زُبير بن عَوَّام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: يوه ورځ زهٔ پهٔ مسجدِ نبوي شريف کښې ناست ووم او د **اللّٰه** پاک ذِکر مې کولو، ناڅاپه زما بنې غوږ ته اواز راغلو: اَلسَّلَامُ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ!

ما چې مخ ور واړولو نو هلته څوک هم نهٔ وو- زهٔ لږ شان ويريدم چې سلام چا وکړو- پهٔ دې کښې اواز راغلو: مهٔ ويرږه، زهٔ مسلمان پيرے يم- د يو سوال د پوښتنې د پاره حاضر شوے يم- اوئې فرمائيل: پوښتنه وکړه څهٔ پوښتنه ده- پيري ووئيل: زهٔ د شيطان پهٔ مجلس کښې ووم، شيطان د خپل لښکر جائزه اخسته- پهٔ دې کښې هلته د شيطان يو تابعدار ملګرے راغلو، د هغهٔ رنګ تَک تور شوے وو، حالت يې هم ډير خراب وو، پهٔ شيطانانو کښې د هغهٔ نه د بد حال والا بَل څوک نهٔ وو- شيطان د هغهٔ نه پوښتنه وکړه: چا ستا دا حالت کړے دے؟ او پهٔ کوم ګس باندې چې ما تهٔ مسلط کړے وې، د هغهٔ څهٔ وشو---؟ د شيطان تابعدار ملګري ووئيل: هغه ګس ما قابو نهٔ کړے شو- شيطان پهٔ زوره چغه کړه: خانه خرابه، ولې دې قابو نهٔ کړے شو- هغه تابعداره ملګري يې ووئيل: هغه ګس څهٔ کلمات لولي- شيطان پوښتنه وکړه: د هغهٔ نوم ووايهٔ! هغهٔ ووئيل: **زبير بن عوَّام**-

بيا هغه مسلمان پيرے کوم چې د حضرت زبير بن عوَّام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خدمت کښې حاضر شوے وو، اوئې وئيل: عالي جاه--!! هغه کوم کلمات دي کوم چې تاسو لولئ، ما ته يــې هم وښايئ! اوئې فرمائيل: زۀ چې کله هم سحر راپاڅم نو وايم:

اَعُوذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی عَافَانِی فِی بَدَنِی، وَرَدَّ رُوحِی فِی جَسَدِی، اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ الْعَظِيمِ، وَاسْتَمْسَكْتُ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى، لَا انْفِصَامَ لَهَا، وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ۔

**ترجمه:** زۀ د **الله** پاک پناه غواړم د شيطان مردود نه- د **الله** د نوم نه شروع کووم کوم چې ډير مهربانه، رحم کوونکے دے- ټول تعريفونه **الله** پاک لره دي، کوم چې زما وجود ته عافيت راکړو، او زما روح يــې زما وجود ته واپس راوګرځولو- ما پۀ لوئي شان او عظمت والا **الله** باندې ايمان راوړو، او (د دِينِ اِسلام) مضبوطه کړئ مې کلکه ونيوله، کومه چې به چرې هم نۀ ماتيږي ، او **الله** ډير ښۀ اوريدلو والا، خبردار دے-[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** غور وکړئ چې د اَعُوذُ بالله وئيلو څومره برکتونه دي- د شيطان ملګرے کوم چې پۀ حضرت زبير بن عوَّام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پسې لګيدلے وو، هغوئي به د **الله** پاک پناه غوښتله، څکه هغه خَبِيث تَک تور او ډير بد حاله شو- مونږ له هم پکار دي چې اِسْتِعَاذَه (يعنې د **الله** پاک د پناه دغوښتو) کثرت کوو- د دې يوه اسانه طريقه دا ده چې پۀ ورځ کښې وخت پۀ وخت اَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم لولو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د شيطان خَبِيث نه به پناه ميلاؤيږي-

## 10 کرته د اَعُوذُ بِاللّٰه لوستلو فضيلت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** نن سبا جديد دور دے، که چا ته څۀ سيکيورټي تهريډز وي يعنې د ځان، مال وغيره خطره وي نو هغۀ ډيرې پيسې خرچ کوي او سيکيورټي ګارډز

1 ...سلوة العارفين، جلد:1، صفحه:125۔

ساتي، ولې---؟ د پاره د دې چې هغهٔ ته څوک څهٔ نقصان اونهٔ رسوي- څهٔ مو خيال دے؟ دا سيکيورټي ګارډز هغوئي د نقصان نه بچ کولے شي؟ نهٔ يې شي بچ کولے- اِذَا جَاءَ التَّقْدِيْرُ فَاتَ التَّدْبِيْرُ چې کله تقدير غالِب شي نو تدبيرونه ټول بے کاره شي- خو بيا هم سيکيورټي ګارډز ساتلے کيږي-

پهٔ مونږ کښې هر يو ګس ته سيکيورټي تهريډز شته او دومره خطرناک تهريډز دي چې پهٔ دې کښې د ځان نهٔ بلکې د ايمان خطره ده- دښمن داسې چالاکه او هوښيار دے، داسې د خطرناکې منصوبې جوړولو والا دے چې د **الله** پاک پناه---!! او هغه دښمن چرته دے: زمونږ پهٔ رګونو کښې د وينې پهٔ شان ګرځي- اوس ووايئ چې د داسې خطرناک دښمن خلاف مونږ ته د څومره سيکيورټي ضرورت دے- چې د ځان د بچ کولو د پاره خلق پهٔ زرګونو بلکې پهٔ لکونو روپۍ لګوي او سيکيورټي حاصلوي نو مونږ د داسې خطرناک دښمن نه د خپل ځان نهٔ بلکې د ايمان د بچ کولو د پاره سيکيورټي ولې نهٔ حاصلوو-

اوس به تاسو وايئ چې دا سيکيورټي به چرته ميلاؤيږي؟ څنګه به ميلاؤيږي؟ څومره خرچه به پرې راځي؟ ډيره اسانه طريقه ده- قربان شم! زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عطا نه، زمونږ د حفاظت يې ټول بندوبست فرمائيلے دے- **پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کوم ګس چې روزانه 10 کرته د شيطان مَردُود نه د **الله** پاک پناه غواړي (مثلاً اَعُوذُ بِالله لولي)، **الله** پاک به د هغهٔ سره يوه فرښته مقرر کړي، کومه چې به شيطان د هغهٔ نه لرې زغلوي-(1)

اِمامِ حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله بنده د زړهٔ پهٔ حاضرۍ (يعنې معنې ته پهٔ سوچ کولو) اَعُوْذُ بالله لولي نو **الله** پاک د بنده او د شيطان پهٔ مينځ کښې 300 پردې جوړوي-(2)

1...مسند ابي يعلى، جلد:4، صفحه:320، حديث:4114-

2...تفسير نعيمى، جلد:1، صفحه:45-

سُبْحٰنَ الله! دا ده د شيطان په شان د خطرناک د ايمان د دښمن نه د حفاظت طريقه- څومره اسان عمل دے، بس روزانه وخت اُباسئ او څومره وخت ويستل دي؟ يو څو سيکنډه- بس لږه شان توجه کوئ! ذِهن جوړوئ! روزانه صرف 10 کرته د اَعُوْذُبالله لوستو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ الله الْکَرِیم! الله پاک به فرښتے زمونږ د حفاظت د پاره مقررې کړي-

## اِستِعَاذَه د انبيائے کرامو عليهمُ السَّلام سُنَّت دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اِستِعَاذَه (يعني د الله پاک پناه غوښتل) د انبيائے کرامو عليهمُ السَّلام سُنَّت دي- په قرآنِ کريم کښې د دې ذِکر موجود دے- حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام عرض وکړو:

رَبِّ اِنِّیْۤ اَعُوْذُ بِكَ (پاره:12، سورهٔ هود:47) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے زما رَبه! زهٔ ستا پناه غواړم-

د حضرت يوسُف عَلَيْهِ السَّلَام او د زُليخې چې کله واقعه وشوه نو هغه وخت حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام وئيلي وو:

مَعَاذَ اللّٰهِ (پاره:12، سورهٔ يوسف:23) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: (د داسې کار نه) د الله پناه-

دغه شان حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک پناه غوښتې وه، حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا کومه چې د يو عظيمُ الشان نبي حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مور بي بي ده، هغې د الله پاک پناه غوښتې وه او زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم...!! هغوئي ته حکم وشو:

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِۙ ﴿۱﴾ (پاره:30، سورهٔ فلق:1) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ته وفرمايهٔ: زهٔ د سحر د رَبّ پناه اخلم-

نور حکم وشو:

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِۙ ﴿۱﴾ (پاره:30، سورهٔ ناس:1) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ته وفرمايهٔ: زهٔ د ټولو خلقو د رَبّ پناه اخلم-

## پهٔ اخري 2 سُورتونو کښې ايمان تازه کوونکې نکته

دا د قرآنِ کريم اخري دوه سورتونه دي: سُورۂفَلَق او سُورۂوَالنّاس- دې دواړو ته مُعَوَّذَتَيْن وئيلے شي يعنې هٔغه دوه سورتونه پهٔ کومو کښې چې د **الله** پاک د پناه غوښتو تعليم ورکړے شوے دے- دلته يوه ډيره ښکلې نکته علمائے کرامو بيان کړې ده: د قرآنِ کريم ابتدا وشوه د سُورۂفَاتِحَه نه او ختم شو پهٔ مُعَوَّذَتَيْن باندې- د دې پهٔ خپل مينځ کښې ډير زيات تعلق دے- د سُورۂفَاتِحَه مرکزي تعليم مُراقبه دے يعنې پهٔ سُورۂفَاتِحَه کښې مونږ ته ښودلے شوي دي چې اے بندګانو...!! خپل باطِن پاک او صفا کړئ او د **الله** پاک ياد پکښې ډِيره کړئ او صِرف او صِرف د **الله** پاک شئ! بيا پهٔ ټول قرآنِ کريم کښې د دې طريقې وښودلے شوې، د دې لارې مشکلات وښودلے شو، د مخکښينو قومونو واقعات بيان کړے شو-

بنده پريشانه شي چې يا **الله** پاکه! ستا د قُرب مونډلو لاره خو ډيره سخته ده، څنګه به در رسوو؟ پهٔ اخر کښې وفرمائيلے شو:

| | |
|---|---|
| قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۙ﴿۱﴾ (پاره:30، سورۂناس:1) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: تهٔ وفرمايهٔ: زهٔ د ټولو خلقو د رَبّ پناه اخلم- |

يعنې **الله** پاک ته د رسيدو د پاره د هغهٔ پاک کريم رَبّ پهٔ پناه کښې راشئ! ټول مشکلات به مو حل شي-(1)

## اِستِعَاذَه د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

سُبْحٰنَ الله! خير! ما عرض کولو چې اِسْتِعَاذَه يعنې د **الله** پاک پناه غوښتل د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام هم سُنَّت دي- د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت هم دي-

---

1...تفسير نظم الدرر، پاره:30، سورۂناس، جلد:8، صفحه:619618 ملخصاً-

رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ كثرت سره د **الله** پاک پناه غوښتله- د شيطان مَردُود خلاف نۀ---!! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د شيطان خو هغوئي ته هډو څۀ خطره نۀ وه، پۀ انبيائے كرامو عَلَيهِمُ السَّلام باندې خو شيطان هډو ګزار نۀ شي كولے او زمونږه خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم---!! د هغوئي شان خو ډير ځانګړے دے، پخپله فرمائي: د هر چا سره يو شيطان وي (كوم ته چې هَمزَاد وئيلے شي)، **فرمائي: زما سره چې كوم شيطان وو، هغۀ كلمه وئيلې ده او مسلمان شوے دے۔**(1)

نو د شيطان نه نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته هيڅ خطره نۀ وه ، رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به مونږ غلامانو ته د ښودلو د پاره پناه غوښتله او صرف د شيطان خلاف نۀ بلكې د نورو ډيرو څيزونو خلاف مكي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پناه غوښتلې ده- پۀ حديثونو كښې ذِكر دي، زۀ د خلاصې پۀ توګه عرض كووم: رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ❀ خراب دوست نه د **الله** پاک پناه وغوښتله ❀ د خراب ګاؤنډي نه يـې د **الله** پاک پناه وغوښتله- دغه شان يـې ❀ د بے فائدې عِلم نه ❀ د عاجزئ نه د خالي زړۀ نۀ ❀ د نۀ مريدونكي نفس نه ❀ د نۀ قبليدونكې دُعا نه ❀ د كمزورئ نه ❀ د ناراستئ نه ❀ د زړۀ د سختئ نه ❀ د غفلت نه ❀ د تنګدستئ نه ❀ د ذِلت نه ❀ د محتاجئ نه ❀ د فِسق (يعني د ګناه) نه ❀ د جګړې نه ❀ د نفاق نه ❀ د شهرت د غوښتلو نه ❀ د ريا نه ❀ د قبر د عذاب وغيره ډيرو څيزونو نه به يـې د **الله** پاک پناه غوښتله-

داسې اِسْتِعَاذَه يعني د **الله** پاک پناه غوښتل د انبيائے كرامو عَلَيهِمُ السَّلام هم سُنَّت دي او د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم سُنَّت دي- ځكه مونږ ته پۀ كثرت سره د **الله** پاک د پناه غوښتو عادت جوړول پكار دي-

---

1...مسلم، كتاب صفة القيامة...الخ، باب تحريش الشيطان...الخ، صفحه:1083، حديث:2814 ملتقطاً-

## د مَدَني پنج سُورې نه دُعاګانې يادې کړئ!

د دې کومو څيزونو نه چې د پناه غوښتو ما ذِکر وکړو، په دې کښې د ډيرو بيان د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ډير ښکلي کتاب **مدنی پنج سوره** کښې موجود دے- دا کتاب حاصل کړئ! په دې کښې چې خاص طور د کومو دعاګانو ذِکر دے، هغه لولئ! روزانه لوستلو دا دُعاګانې يادې کړئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! ډيره فائده به درته حاصله شي-

## د تَصَوُّف وړومبۍ پوړۍ

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** هسې خو اَعُوْذُباللّٰه اسانه وظيفه ده، لېږ په ذِهن باندې زور راوړئ چې په ماشومتوب کښې چې کله د قرآنِ کريم لوستلو د پاره د قاري صاحب خوا له تلې وو نو هغوئي به مونږ ته وړومبے هم اَعُوْذُباللّٰه ښودلې وه خو کيدے شي چې ډيرو خلقو ته د دې معنیٰ هم نۀ وي معلومه، لولي يے، چې کله د تِلاوت سعادت حاصلوي، اَعُوْذُباللّٰه عام طور لوستلے کيږي، د دې ترجمه څۀ ده؟ واورئ!

- د اَعُوذُ معنیٰ ده: **زۀ پناه غواړم**- د چا؟
- **بِاللّٰهِ: د اللّٰه پاک**- د کوم دښمن نه د بچ کيدو د پاره؟
- **مِنَ الشَّيطٰنِ الرَّجِيم: د شيطان مَردُود نه**-

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: اَعُوْذُباللّٰه لوستل لکه چې د مخلوق نه د خالِق طرف ته ګرځيدل دي او دا د تَصَوُّف وړومبۍ پوړۍ ده-(1)

---

1 ...تفسير نعيمی، جلد:1، صفحه:44-

يعنې بنده چې کله معنې ته نظر وکړي او د زړۀ په ګواهۍ سره اَعُوْذُ بِاللّٰه لولي نو هغۀ لکه چې د **الله** پاک په بارګاه کښې خواست کوي: يا **الله** پاکه! زۀ ډير کمزورے بنده يم، تا زۀ د خاورو نه پيدا کړے يم، يا **الله** پاکه! ډير سرکشه دښمن په ما پسې راپسې شوے دے، اے رَبِّ کريمه! په ما کښې د مقابلې طاقت نشته- اے کريم مالِکه! دُنيا ما د ځان طرف ته راښکي، نفس مې په خواهشاتو باندې راپاروي، شيطان مې د ايمان نه په خلاصولو کښې لګيا دے، اے **الله** پاکه! زۀ نۀ شم چليدے، زۀ مقابله نۀ شم کولے، زۀ کمزورے يم- اے کريم مالِکه! ما په خپله پناه کښې واخله، هُم تۀ يې، ستا نه علاوه بل هيڅ د پناه ځائے نشته-

تاسو اندازه ولګوئ چې دا څومره ښکلے سوچ دے، د اَعُوْذُ بِاللّٰه په ذريعه بنده د خپلې کمزورۍ اِقرار هم کوي، د **الله** پاک په قُدرتونو باندې يقين هم بيانوي او ورسره ورسره د شيطان نه ډير نفرت هم ظاهروي- دا درې څيزونه که په حقيقت کښې راشي، يعنې (1): اِنسان ته خپله کمزوري معلومه شي (2): د الله پاک په قُدرتونو باندې يقين پيدا شي (3): د شيطان مَردُود نه په صحيح معنو کښې نفرت پيدا شي نو يقين وکړئ چې زمونږه ژوند ښۀ کيدے شي-

## د فِرعَون د سبق نه ډکه واقعه

فِرعَون هُغه سرکشه کافِر دے کوم چې د خُدايۍ دعوىٰ کړې وه- د مکـتبة الـمدينه د کتاب: **حکايتيں و نصيحتيں**، په صفحه: 373 باندې دي: يو ځل داسې وشو چې د نيل درياب اوبه ډيرې کمې شوې، فصلونو ته اوبۀ نۀ ميلاؤيدې، قحط راغلو، خلق د لوږې او تندې نه بے حاله شول، اخر ټول په شريکه د فرعون خوا له راغلل او اوئې وئيل چې اے فرعونه! زمونږه بال بچ، څاروي ټول هلاکيږي، که تۀ واقعي خُدائے يې نو د نيل درياب جاري کړه- بيا خو فرعون ته معلومه وه چې زۀ خُدائے نۀ يم، د دې نه هم خبر وو چې زۀ درياب نۀ شم جاري کولے خو بيا هم څۀ خو کول وو، ګنې نو چې کومه ډرامه

یـې کړې وه، هغه به خلقو ته ښکاره کیدله- نو فرعون د دې یو حل ولټولو، هغۀ د ورېښمو جامې، د ویښتو نه جوړه کړے شوې ټوپۍ او د اِیرې نه ډکه یوه تیلۍ را واخسته او بالکل یواځې د یوې شاړې جزیرې طرف ته روان شو، هلته چې لاړو نو هغۀ شاهي جامې ویستلې، د ورېښمو جامې یـې واغوستې، پۀ سَر باندې یـې د ویښتو نه جوړه کړے شوې ټوپۍ کیښوده او اِیره یـې پۀ زمکه باندې خوره کړه پۀ هغې کښې یـې ځان ولړو، هغۀ پۀ ژړا ژړا سر پۀ سجده شو او عرض یـې وکړو: اے زما خالِق او مالِکه! ما ته معلومه ده چې هم تۀ د زمکې او د اسمان مالِک یـې خو پۀ ما باندې بد بختي غالبه شوه، زۀ ستا پۀ نافرماني او سرکشۍ کښې د حده تیر شوم، اے مالِکه! ما پۀ خپل قوم کښې مۀ رسوا کوې، بے شکه تۀ ډیر کرم کوونکے یـې-

فِرعَون بد بخته چې کله د رَبِّ رحمان او رحیم پۀ حُضُور کښې د خپلې عاجزۍ او محتاجۍ اِظهار وکړو نو د کرم دریاب پۀ موجونو شو او **اللّٰه** پاک د نیل دریاب د جاري کولو حکم وفرمائیلو- (1)

اَللّٰہُ اَکۡبَر! **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** غور وکړئ چې د فرعون پۀ شان سرکشه کافِر اګر که د خپلې دُنیا د دروغژن عزت د پاره سهي، چې کله د **اللّٰه** پاک پۀ حُضُور کښې د محتاجۍ او د بے وسۍ اِظهار کوي، مني چې مولیٰ! هُم تۀ د قدرتونو والا یـې، زۀ خو بے وسه محتاجه بنده یم، چې کله فرعون پناه غواړي نو **اللّٰه** پاک داسې کرم کوي، سوچ وکړئ چې مونږ خو بیا مسلمانان یو، د هٰغه **رَبُّ العَالَمِین** پۀ حُضُور کښې سجدې کوونکي، د هغۀ د محبوبِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کلمه لوستونکي یو، مونږ چې کله د خپلو محتاجو اِقرار وکړو، د خپلې بے وسۍ خیال راولو او د زړۀ د اِخلاصه وه منو چې مولیٰ! زۀ محتاج یم، ستا بنده یم، زما هیڅ طاقت نشته، هیڅ قوت نشته، اے کریم مالِکه! زۀ ستا پۀ پناه

---

1 ...حکایتیں و نصیحتیں، صفحه:373 بتغیر قلیل-

کښې راځم- بيا به پۀ مونږ باندې څومره کرم کيږي-

## مونږ او زمونږه بے وسوسي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! لږه توجه وکړئ، مونږه واقعي ده چې بے وسه يو- غور وکړئ! ❀ که زمکه وچوي نو آيا مونږ هغه منع کولے شو؟ نۀ يـې شو منع کولے- څوک يـې منع کولے شي؟ اللّٰه پاک- نو ولې د اللّٰه پاک پناه نۀحاصلوو ❀ د اسمان نه سخت باران را او وريږي، سيلابونه راشي نو مونږ يـې منع کولے شو؟ نۀ يـې شو منع کولے ❀ زلزلې راشي نو مونږ يـې منع کولے شو؟ نا ❀ پۀ ځنګلونو کښې پۀ زرګونو قِسمه ځناور دي، که دا ځناور ښارونو ته راشي نو آيا مونږ هغه منع کولے شو؟ نۀ يـې شو منع کولے ❀ ښه ځنګل هم لرې خبره ده، زمونږ پۀ کورونو کښې څومره زهريله ځناور موجود دي، چرمخکې عامې دي، پۀ کورونو کښې ازادې ګرځي- پۀ يخنۍ کښې پته نۀ لګي چې چرته ورکې شي، پۀ ګرمۍ کښې پته نۀ لګي چې د چر ته نه راپيدا شي- دا چرمخکې که ټولې راوځي نو آيا مونږ هغه منع کولے شي؟ نۀ يـې شو منع کولے، ژوند به مو ګران شي- نورې څومره داسې معاملې دي کومې چې زمونږه هډو پۀ اِختيار کښې نۀ دي- **د اللّٰه پاک پۀ اِختيار کښې خو هر څۀ دي**- چې مونږه بے وسه يو، **اللّٰه پاک د ټولو قدرتونو والا دے** نو بيا ولې نۀ چې مونږ د خپلې بے وسۍ اِقرار وکړو، دا وه منو چې پناه ميلاوېږي نو صرف د اللّٰه پاک د حُضُور نه به ميلاوېږي او د اللّٰه پاک پناه غوښتونکي جوړ شو- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! مزې به مو شي-

## د اُستاذ بهترين نصيحت

يو بزرګ وو، هغوئي د خپل شاګرد نه پوښتنه وکړه چې ځويه---!! فرض کړه چې تۀ پۀ يو ځائے تيريږې، يو سپے پۀ تا پسې غاپي- بيا به تۀ څۀ کوې؟ اوئې وئيل: زۀ به هغه وشړم - استاذ صاحب وفرمائيل: ځويه! داسې خو به تۀ هم هلته پاتې شې ځکه چې تۀ به سپے شړې او هغه به پۀ تا پسې غاپي- که تۀ د سپي د مالِک نه مدد وغواړې نو هغۀ به درنه سپے

کُرېږ کړي، تۀ به پۀ ارام سره تير شې، داسې به د سپي نه هم خلاص شې او وخت به دې هم بچت شي۔(1)

خومره اسانه طريقه ده--!! د مالِک پۀ پناه کښې راشۀ! ټول مشکلات به دې حل شي۔

## د قومِ يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام د کمال حکمتِ عملي

پۀ قرآنِ کريم کښې ښکلې واقعه بيان شوې ده۔ حضرت يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام د **اللّٰه** پاک نبي دے، هغوئي چې کوم قوم ته نبي ليږلے شوي وو، هغه خلق پۀ نَينوىٰ نومې علاقه کښې اوسيدل، پۀ کُفر او شِرک کښې اخته وو، حضرت يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام هغوئي ډير پوهه کړۀ، د نيکئ دعوت يې ورکړو، د اِيمان او دِين طرف ته يې راوبلل خو هغه خلق د کُفر او شِرک نه منع نۀ شو۔ اخر حضرت يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام هغوئي ته د عذاب خبردارے ورکړو، ورته ووئيلے شو چې اوس به عذاب راځي۔ دا خبره چې هغوئي واوريده نو د هغوئي سره فِکر شو۔ د علاقې چې کوم مشران او هوښياران خلق وو، هغوئي راجمع شول، سوچ يې شروع کړو چې حضرت يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام چرې هم يوه غلطه خبره نۀ ده کړې۔ چې هغوئي د عذاب راتللو فرمائيلي دي نو عذاب به ضرور راځي۔ پۀ خپل مينځ کښې مشوره شروع شوه چې اوس څۀ کول پکار دي - پۀ مشوره کښې دا خبره وټاکلے شوه چې که حضرت يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام پۀ علاقه کښې وي نو د دې مطلب به دا وي چې عذاب نۀ راځي۔ که چرې هغوئي تشريف يوړلو نو مطلب به دا وي چې عذاب به راځي۔ نو هغوئي څۀ خلق د حضرت يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام د کور مبارک خوا ته مقرر کړۀ! شپه شوه، حضرت يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام د علاقې نه بهر تشريف يوړلو۔

چې سحر شو نو د عذاب نخښې پۀ نظر راغلې۔ بيا خلق پريشانه شو چې څۀ وکړي۔ حضرت يُونُس عَلَيۡهِ السَّلَام لټوو چې پۀ څۀ طريقه باندې هغوئي تشريف راوړي، مونږ د هغوئي

1 …تفسير قرطبی، پاره:9، سورۀ اعراف، زيرِ آيت:200، جلد:4، صفحه:210۔

پۀ لاس کلمه ووايو او د عذاب نه بچ شو خو هغوئي تشريف وړے وو- بيا هغوئي يوه منصوبه جوړه کړه که بوډاګان وو، که ځوانان ، که زنانه وې که ماشومان، ټول د کورونو نه راووتل، پيرې جامې يې واغوستې، د ځنګل طرف ته روان شو، ټولو د **الله** پاک پۀ حُضُور کښې ژړا فرياد شروع کړو: اے کريم مالِکه! مونږه پۀ حضرت يُونُس عَلَيْهِ السَّلَام باندې ايمان راوړو، اے کريم مالِکه! مونږ توبه کوو-

داسې هغوئي پۀ ژړا ژړا د **الله** پاک پناه وغوښته نو **الله** پاک د هغوئي توبه قبوله کړه او هغه عذاب کوم چې د هغوئي تر سرونو پورې راغلے وو، د هغې نه يې هغوئي ته نجات عطا کړو-[1]

## پناه صِرف هم يوه ده

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې بنده کله پۀ دې پوهه شي چې زۀ بے وسه يم، پناه به صرف د **الله** پاک پۀ حُضُور کښې ميلاؤيږي نو ټول مشکلات ترينه لرې کيږي- **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ ظَنُّوْۤا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّاۤ اِلَيْهِ ؕ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۱۸﴾ (پاره:11، سورۀتوبه:118) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هغوئي يقين وکړو چې د الله د ناراضګۍ نه (بچ کيدلو د پاره) د دې نه سِوا هيڅ پناه نشته، نو الله د هغوئي توبه قبوله کړه د پاره د دې چې هغوئي توبه ګار اوسي- بے شکه هُم الله توبه قبلوونکے مهربانه دے- |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې د **الله** پاک پۀ پناه کښې د راتللو نه بغير زمونږه بله څۀ لار نشته- ځکه نبه هم دا ده چې مونږه د **الله** پاک پۀ پناه کښې راشو، د هغۀ پۀ حُضُور کښې عرض وکړو: مولیٰ! زۀ کمزورے يم، بے وسه يم، هيڅ نۀ شم کولے- اے کريم مالِکه! ستا دا کمزورے بنده ستا پۀ حُضُور کښې حاضر دے او ستا د پناه طلب ګار دے، زما پناه نصيب کړې-

1...تفسيرِ صراط الجنان، پاره:11، سورۀيونس، زيرِ آيت:98، جلد:4، صفحه:379378-

## اَعُوذُبِاللّٰه او د ازاد خيالیِ تصَوُّر

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نن سبا دا نظريه ډيره عامه ده، ډير خلق په دې پسې روان هم دي او هغه نظريه ده ازاد خيالي(***Free Will Theory***)۔ په **اَعُوذُ بِاللّٰه** کښې د دې هم عِلاج شته - زمونږه خوښه او زمونږه چې کومه اراده ده دا د يو خاص حده پورې کار کولے شي، که مونږه دا ازاده پريږدو، بالکل ازاد خياله شو نو زمونږه په ارادو، زمونږه په سوچونو او زمونږه په خيالونو باندې شيطان قبضه کولے شي- ځکه چې مونږه کله وايو: اَعُوذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم نو په دې کښې يو اِقرار دا هم دے چې اے **اللّٰه** پاکه! زۀ خپلې ارادې او خيالونه هم تا ته سپارم د پاره د دې چې شيطان زما په خيالونو باندې قبضه اونۀ کړي-

## ترقي يافته بد فالي

نن سبا وګورئ چې دُنيا ترقي کړې ده، خيالونه او سوچونه يې ازاد پريښودي دي خو په بد فالیِ کښې انبنتي دي- ډير لوئي لوئي ترقي يافته ملکونه دي کوم چې د 13 نمبر نه بد فالي اخلي، د هغوئي په ودانو کښې 13 نمبر منزل نۀ وي، په جازونو کښې يې 13 نمبر سيټ نۀ وي-

نورې ډيرې وهمي خبرې خلقو جوړې کړې دي، مثلاً ❁ که سحر وختي يې د چا رړوند سره ملاقات وشي ❁ د يوې سترګې والا [کاڼه] انسان يې مخې ته راغلو ❁ څوک ګوډ ورته ميلاؤ شو ❁ تور کارغه يا پيشو يې په مخه باندې تيره شوه ❁ کار له د تللو په وخت يې په لاره کښې څۀ خراب اواز واوريدو نو بد فالي ترينه اخستے کيږي چې اوس به زما کار نۀ کيږي ❁ د ورځو نه بد فالي اخستے کيږي ❁ د ايمبولينس د اواز نه ❁ د فائر بريګيډ د اواز نه بد فالي اخستے کيږي ❁ کله نا کله په اخبارونو کښې د چاپ کيدونکو د ستورو په لوبو هم خپل ژوند غمژن کولے شي ❁ بعضې خلق د ميلمه د رخصتيدو په وخت په کور کښې جارو سپيرۀ ګنړي ❁ که ښیِ سترګه يې ورپيږي نو يقين کوي چې څۀ مصيبت به راځي ❁ که اختر د جُمعې په ورځ راشي نو دا د حکومت د پاره

درنه ګڼلے کیږي ❁ د پیشو د ژړا اواز سپیرۀ ګڼلے کیږي ❁ که بانګي د ورځې بانګ وکړي نو پۀ بد فالی کښې اخته کیږي تر دې پورې چې هغه ذبح کوي ❁ که د دکان نه ورومبے ګاهک بغیر د سودا اخستو نه لاړ شي نو دکاندار د دې نه بد فالي اخلي ❁ د نوې ناوې کور ته پۀ راتلو که څۀ بده پیښه وشي نو هُغه ناوې سپیرۀ ګڼلے کیږي ❁ پۀ ځوانۍ کښې کونډه شوې زنانه سپیرۀ ګڼلے کیږي ❁ خالي قینچي چلول  سپیرۀ ګڼلے کیږي ❁ د نمر د تندر نیولو پۀ وخت دې حامله زنانه پۀ چاړه باندې څۀ نۀ پرې کوي چې ماشوم یــې پیدا شي نو د هغۀ لاس یا ښپه به کټ وي ❁ ډیر وهمیان خلق د صفرې میاشت د مصیبتونو او افتونو میاشت ګڼي ❁ خاص طور د دې ورومبي 13 تاریخونه کومو ته چې **تیره تیزی** وئیلے کیږي، دا تاریخونه ډیر سپیرۀ ګڼلے کیږي ❁ د وهمیانو خلقو دا ذِهن جوړ شوے وي چې د صفرې پۀ میاشت کښې نوے کاروبار شروع کول نۀ دي پکار، ګڼي نو د نقصان خطره ده ❁ پۀ صَفَرُ الْمُظَفَر کښې د سفر کولو نه بچ کیدل پکار دي، د پیښې سره د مخ کیدو خطره ده ❁ پۀ دې میاشت کښې ودونه مۀ کوئ، لوڼه مۀ ودوئ، د کور بربادیدو اندیښنه ده ❁ ډیر وهمیان خلق د صفرې پۀ میاشت کښې غټ کاروبار نۀ شروع کوي ❁ کاروباري لین دین نۀ کوي ❁ د کور نه بهر پۀ تګ راتګ کښې کمے راولي- ولې---؟ سپیرۀ والے به راشي ، د پیښې سره مخ کیدے شي-

لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه...!! چې کله خیال ازاد پریږدې نو شیطان به پرې هم داسې قبضه کوي- حالت ته وګورئ تاسو---!! انسان پۀ هوائي جاز کښې کښیني او پۀ هوا کښې سفر کوي، دومره ترقي یــې کړې ده خو دماغو ته یــې وګورئ چې 13 نمبر سپیرۀ ګڼي-

وروره---!! هیڅ هم نۀ کیږي- د کومې تورې پیشو پۀ مخه د تیریدو نه چې ویریږې، د هُغه خالِق او مالِک اللّٰه رَبُّ العِزَّت پۀ پناه کښې راشۀ! خواره توره پیشو به تا ته څۀ نقصان در ورسوي، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! ټولې ورانې به دې ودانې شي-

## د بدۍ 70 دروازې

حضرت مکحول رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: چا چې ووئيل: لَاحَوۡلَ وَلَا قُوَّۃَ اِلَّا بِاللّٰہِ وَلَا مَنۡجَا مِنَ اللّٰہِ اِلَّا اِلَیۡہِ **الله** پاک به د هغهٔ نه 70 قِسمه تکليفونه لرې کړي- پهٔ کومو کښې چې د ټولو نه د کمې درجې تکليف تنګدستي ده-(1)

## د بيان خُلاصه

خير! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د بيان خلاصه دا ده چې مونږ له د اِسۡتِعَاذَہ عادت جوړول پکار دي- يعنې د **الله** پاک پناه غوښتل پکار دي- اسانه طريقه دا هم ده چې اَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡم پهٔ کثرت سره لولئ، پهٔ دې يوه جُمله کښې بنده اِقرار کوي چې ❁ ما خپل ځان پيژندلے دے، ډير کمزورے يم ❁ ما ته دا هم معلومه ده چې شيطان زما د ټولو نه سخت دښمن دے ❁ او ما ته دا هم پته ده چې د **الله** پاک د پناه نه بغير که هر چرته هم يم، محفوظ نهٔ يم، ځکه زهٔ د **الله** پاک پهٔ پناه کښې راځم- کله چې بنده داسې د **الله** پاک پناه غواړي نو رَبِّ کريم ډير رحمان او رحيم دے، بنده ته پناه عطا کوي- کله چې د **الله** پاک پناه ميلاؤ شي نو اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! يو شيطان خو څهٔ دے چې کروړونه شيطانان هم زمونږه هيڅ نهٔ شي کولے- **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدرسة المدينه بالِغان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ګناهونو نه د نفرت د جذبې موندلو، د نيک نمونځ ګزاره جوړيدو د سعادت حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط کړئ! پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم ښهٔ پهٔ شوق برخه

1 ... مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الدعاء، باب ما اذا قاله الرجل...الخ، جلد:7، صفحه:135، حدیث:1۔

اخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دې به درته ډیر برکتونه نصیب شي- پۀ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: مدرسة الـمدینه بالِغان هم دے پۀ کوم کښې چې د صحیح تجوید او قراءَت سره قرآنِ کریم لوستل ښودلے شي-

پۀ حدیثِ پاک کښې دي: پۀ تاسو کښې بهتر هغه دے څوک چې قرآن زده کړي او [نورو ته یې] وښائي-[(1)] ❁ قرآنِ مجید د **الله** پاک کتاب دے ❁ د بندګانو پۀ نوم د رَبِّ کریم پیغام دے ❁ **خو افسوس** چې نن مسلمانان د قرآنِ کریم نه ورځ پۀ ورځ لرې کیږي ❁ ډیر خلق پۀ کتلو هم صحیح قرآنِ مجید نۀ شي لوستلے ❁ څوک یې چې لولي هغوئي هم پۀ تجوید او مخارجو کښې داسې غلطیانې کوي، چې د هغې پۀ وجه یې نـمونځ هم نۀ کیږي-

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تنظیم دعوتِ اسلامي پۀ مختلفو جوماتونو، دکانونو او مارکیټونو وغیره کښې هره ورځ د مدرسة الـمدینه بالغان پۀ کلاسونو لګولو سره د قرآنِ کریم پۀ فیضان عام کولو کښې مصروف دے ❁ پۀ دې کښې پۀ صحیح تجوید او مخارِج سره قرآنِ کریم لوستل ښودلے شي ❁ فرض عُلُوم هم ښودلے شي ❁ سُنّت او آداب هم ښودلے شي او ❁ د ترجمې او تفسیر اوریدو موقع هم میلاویږي ❁ تاسو هم پۀ دې کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ډیر برکتونه به درنصیب شي- راځئ چې د ترغیب د پاره یو مَدَني سپرلے واورو-

## د فیشن کوونکي پۀ ژوند کښې سپرلے راغلو

د حیدرآباد، (سندھ، پاکستان) د اوسیدونکي یو اِسلامي ورور بیان دے: چې زۀ یو فیشني ځلمے ووم، د دُنیا پۀ موج مستۍ کښې ورک، د خپل اخِرت د انجام نه مې غافله د ژوند ورځې شپې تیرولې، زما د ګناهونو نه ډک ژوند کښې سپرلے څۀ داسې راغلو چې زما پۀ مدرسةُ الـمدینه بالِغان کښې د داخلې سعادت نصیب شو، بس بیا زما د نیک بختۍ

1 ... بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خیرکم من ...الخ، صفحه:1299، حدیث:5027۔

سفر شروع شو، د مدرسةُ الــمدينه بالِغان برکتونو زما تيارۀ ژوند د **الله** پاک پۀ ويره او د مصطفٰے کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ عشق روښانه کړو، پۀ دې کښې ما ته د قرآنِ پاک د تعليم سره سره پۀ سُنّتو باندې د عمل کولو جذبه هم نصيب شوه او پۀ هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو سعادت هم رانصيب شو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! پۀ مدرسةُ الــمدينه بالِغان کښې د لوستلو پۀ برکت زما پۀ ژوند کښې سپرلے راغلے، د فيشن کولو، او د موج مستئ نه خلاصے هم رانصيب شو-

ترا شکر مولیٰ دیا مدنی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول
دعا ہے یہ تجھ سے دل ایسا لگا دے | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مَدنی ماحول (1)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## القرآن الكريم موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن د ټيکنالوجئ دور دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تنظيم **دعوتِ اِسلامي** د جديد ټيکنالوجئ پۀ ذريعه هم د عِلمِ دِين عام کولو کوشش کوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې : ***Quran Al kareem***(القرآن الكريم ) دے- پۀ دې ايپلي کيشن کښې ✿ د پوره قرآنِ پاک لوستلو ✿ او د مختلفو قاريانو پۀ اوازونو کښې د قرآنِ پاک اوريدلو سهولت موجود دے ✿ دې سره سره يو خاص سورت يا آيت ***Bookmark*** کيدے هم شي يعني بيا بيا لوستونکے سورت يا آيت د ***Bookmark*** کيدو سره پۀ اسانئ سره لوستلے کيدے شي- اوسه پورې تقريباً د لسو لاکو نه زياتو ګسانو دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړے دے-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوسه پورې تقريباً د 10 لاکهه نه زياتو خلقو دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړے

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:648647۔

دے- تاسو هم دا ايپلي کيشن پهٔ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، نخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې خالي پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمونځ نه پس پهٔ مَدَني چينل پاؤ کـم 10 بجې **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم**! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې نخپله هم شرکت وکړئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو يا اوريدلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د شُکر برکتونه** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله نخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) کړي! ❁ د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خليفه حضرت مولانا عبيد رضا عطاري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اثرناک او د محبت نه ډک بيانونه اوس پهٔ کتابي شکل کښې پهٔ نوم د **بياناتِ خليفهٔ اميرِ اهلِسُنَّت** موجود دي- تاسو د بيانونو دا مجموعه د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پهٔ **650 روپی** پهٔ بيعه واخلئ، نخپله يـې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ! ❁ د مجلِسِ تقسيمِ رسائل له خوا د **مُحَرَم شريف** د مياشتې پهٔ نسبت عِلم او عمل ته د ودې ورکولو د پاره په بهترينو کتابونو او رسالو مشتمل دوه خصوصي پيکجونه وړاندې کولے شي: ❁ پيکيج نمبر 1 (صرف پهٔ 100 روپي): يو عدد د تيرو

كلونو ماهنامې (عامې) 2 عدد منتخب شوې رسالې ✿ پيكيج نمبر 2 (صرف پهٔ 200 روپۍ): يو عدد د تيرو كلونو ماهنامه (خاص) درې عدده د غټ سائز او يوه د وړوكي سائز رساله- د دې پيكيجونو مقصد اِسلامي معلومات عام كول او د مُحَرَّم شريف عظمت او پيغام كور كور ته رَسَوَل دي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰه عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان پهٔ اخره كښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وكړو هغهٔ زما سره محبّت وكړو او چا چې زما سره محبّت وكړو هغهٔ به پهٔ جنّت كښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰه عَلٰى مُحَمَّد

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارك دي: (1): څوك چې وعده نهٔ پوره كوي، د هغهٔ هيڅ ايمان نشته- [2] (2): كوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي وكړي پهٔ هغهٔ باندې د اللّٰه پاك او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے- [3]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! وعده پوره كول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلكې سُنَّتِ انبيا دي ✿ زمونږه خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ خپله وعده كلك ولاړ وو او ✿ وعده ماتول به يې نهٔ خوښول ✿ د نبوت د اعلان نه مخكښې يو ځل يو كَس نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عرض وكړو

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-
2...مصنف اِبْنِ اَبِي شيبه، كتاب: الايمان، جلد:7 صفحه:223-
3...بخاری، كتاب: جِزْيه، صفحه:815، حديث:3179-

چې: تاسو ودرېږئ! زۀ دا دے اوس راځم، هُغه ګس لاړو خو واپس راتلل ترینه هیر شول، 3 ورځې پس هغۀ ته بیا وریاد شول، چې کله هغۀ هُغه ځائے ته راورسیدو نو حیران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تیریدو باوجود هم په هغه ځائے کښې تشریف فرما وو او مَاشَآءَ الله! شفقت او رَحمت او ښۀ اخلاقو ته یې وګورئ! چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُغه ګس اونۀ رټلو او نۀ په جلال کښې راغلو، بس دومره یې وفرمائیل: اے سړیه! تا زۀ په مشقت کښې واچولم- (1) الله پاک دې مونږ هم په سُنّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

---

1...اَبُو داؤد، کتاب ادب، باب فی العدة، صفحه:781، حدیث:4996-

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډكو لاسونو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

2 . . . القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

## ﴿4﴾ د شپې لا كه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

---

1 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۴۹

2 ... القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

3 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث: ۳۰

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵